# مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ». "څوک چې په اخلاص سره له الله تعالی څخه شهادت وغواړي، الله به يې د شهيدانو مرتبې ته ورسوي، که څه هم په خپل بستر کې مړ شي

له سهل بن حنيف رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ». "څوک چې په اخلاص سره له الله تعالی څخه شهادت وغواړي، الله به يې د شهيدانو مرتبې ته ورسوي، که څه هم په خپل بستر کې مړ شي".
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د الله تعالی په لار کې شهادت او مرګ وغواړي او په خپل دې نيت کې الله تعالی ته مخلص وي، نو الله تعالی به يې په ريښتيني نيت سره د شهيدانو مرتبه ورکړي، که څه هم له جهاد پرته په بستر کې مړ شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3157

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee